ليکوال: سراج الحق ببرک زی خدراڼ ۲۰۱۷/۰۷/۲۴

ژباړن: له انګليسي ژبې څخه الماني ته ښاغلی ته ام.ټ. کاپل او له الماني څخه پښتو ته سراج الحق ببرک زی خدراڼ

# د پاکستان وېشل يوه لاره ده، څو ترهګري لمنځه لاړه شي

دا د هغي کتاب نوم دی، چې يوه پاکستاني ليکوال، ځېرنوال او د اې ايس اې يو پخواني مامور په نامه د سيد جمال الدين ليکلي دی [i]. ليکوال په دې کتاب کې د هغو موضوعګانو په اړه ليکي، کومي د پاکستان سره د ترهګرۍ ضد جګړه کې تړاو لري. د پاکستان دولتي تروريزم په ډراماتيکه توګه ټوله سيمي يې په سيستماتيکه ټوګه ترهګرو شبکو په فعاليتونو بدله کړی ده او منفي اغيزې پر نړيواله سوله پريوتي دي. په دې کتاب کې د پاکستان د څارګرې اداري اې ايس اې او د دوی تبليغاتي جماعت رول په ژوره او بنستيزه توګه څېړل شوي دي. همدارنګه په دې کتاب کې د ترهګرۍ وده، د ترهګرو غوښتني، د راتلونکو ترهګرۍ او د ترهګرو لوبې تحليل شوي دي. په دې کتاب کې د اې ايس اې اوسنۍ کړنلارو په اړه ځانګړې کره مالومات راټول شوي دي او همدا راز د اې ايس اې څارګرې اداري ستراتيجي هم رابرسيره کړي ده، دوی څنګه د دې ستراتيجي له لارې نړيواله سوله او امنيت له منځه وړل غواړي. همدارنګه دوی څنګه د سپېڅلي جهاد او شهادت تر نامه لاندې د نړۍ اسلاميزيشن کولو ته مخه کړي ده. په دې کتاب کې د پاکستان تاريخ په هکله، د پاکستان پوځې ډيکتاتوريو په اړه او د دوی مذهبي فرقيزو ډلو په اړه مالومات را ټول شوي دي په دې کتاب کې راغلي دي، چې دوی څنګه شپه ورځ په دې بوخت دي، څو د ترهګري جګړې تر نامه لاندې نړۍ او نړيوال وغولوي. ليکوال په دې اړه د کارپوهانو سره خبرې اترې کړی دي. د کتاب ليکوال جنرال مشرف په اونيفورم کې يو تروريست نومولي دی.




سيد جمال الدين يو محرک فعال ليکوال دی. په سويلي اسيا کې پاکستان په کومو بېلابېلو ترهګريزو فعاليتونو کې لاس درلودلي دی، هغه يې ټولې څېړلي دي.
په ۱۹۹۹ کال کې سيد جمال الدين د پرويز مشرف پوځې کودتا ورسته مجبور شو، له پاکستانه فراري شي. دی د پاکستان د سياسي، مذهبي ډلو او دولتي ادارو سره ښې اړيکې لري.
ما ژباړن د ليکوال سيد جمال الدين له کتابه ,,د پاکستان وېشل يوه لار ده، څو ترهګري لمنځه لاړه شی ,, يوه موضوع راژباړلي ده. ما ته دا موضوع ځکه په زړه پوري ده، چې وسمهال پاکستاني ليکوال هم د خپل حکومت دوه مخيتوب نور نشي زغملي. په کتاب کې نورې موضوعګانې همه شته. د کتاب سريزه په لاندې ډول پيلېږي.
پاکستان کې د امريکا متحده ايالاتو په سفارت کې د امنيتي چارو يو مامور ښاغلي مائيکل ايوانوف داسي وايي.
,,پاکستان اوس د تروريزم مرکزي ثقل ګرځيدلي دی. دا هيواد ما ته په ټوله نړۍ کې يوازينې هيواد دی، چې په دې نوم مشهور شوي دی. په دې هيواد کې ځښتي ډيرې ترهګرې ډلې مېشتي دي. دوی د امريکا او د لويديځ ايډيالونو په وړاندې جنګيږي,,.
د کتاب ليکوال سيد جما ل الدين ليکې، د ده په اند، دا امريکايي امنيتي مامور د پاکستان په اړه ځښتې ډير ريښتيا ويلي دي .
,,پر ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په شلمه نيټه د امريکې جمهور ريس وويل، په دغه سيمه کې هر ملت بايد دا پريکړه وکړي، يا به د موږ پخوا کې، يا به د ترهګرو پخوا کې وي ,, .
ليکوال سيد جمال الدين دبنګلديشي ليکوال J.S. Gupta د خپلواکي غورځنګ تاريخ څخه په خپل کتاب کې يوه خورا مهمه تاريخي پيښنه بيانوي.
Chittagong ليکوال د کتاب په يوه برخه کې داسي ليکلي، يو شمير محصلينو يو ټلګرام ترلاسه کړو،



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دوی غوښتل دا ټلګرام د اګرباد ستیشن څخه رادیو پاکستان ته د خپرولو لپاره ولیږي. دا ټلګرامي خبرونه د بنګالي ډاکتر مجهوله انور له لوري وژباړل شوي وه. د دې خبرونو خپرولو اجازه د جګپوړو چارواکو لخوا ورنه کړل شوه. دغه محصلین د کلوګاټ په پله واوښتل او هغي سیمي ته راورسیدل، چي د خلیځ بنګال د یوه پوځي کنډک له لوري د میجر ضیاوالرحمن په مشري کنترولیده. دې بنګالي سرتیرو همدغه رادیو سټېشن کنترلولو، په ۱۹۷۱ کال د مارچ په شپږویشتمه نیټه د ماښام په ۴۵ .۱۹ دقیقو میجر ضیاوالرحمن د شیخ موجیبو الرحمن له لور د بنګلدیش خپلواکي په یوه اعلامیه کې په لاندې ډول خپره کړه.

زه میجر ضیاالرحمن دلته د بنګوبونډوها شیخ موجیب الرحمن په غوښتنه دا اعلانوم، چي د یو خپلواک ولسي جمهوریت بنګلدیش بنسټ کیښودل شو. Shadhin.Bangla. Betra.Kendro زه د شیخ موجیب الرحمن په نامه پر ټولو بنګالیانو غږ کوم. د لویدیځ پاکستان پوځ په وړاندې راپورته شئ او موږ به تر ورستي بنګالي پوري وجنګیږو، څو خپل پلارنی هیواد آزاد کړو. د الله ج په فضل بری زموږ په لوري دی. Joy Bangla

"د کلورګاټ راډیو څپې تر محدودي سیمو پوري خپریدي. دغه خبر د یوې چاپاني بیړۍ له لوري، چي د بنګال په خلیج کې روانه وه ثبت شو. همدغه خبر بیا د استرالیا او ورسته د بې بې سي راډیور له لوري هم خپرو شو. له دې مهاله د ۱۹۷۱ کال د مارچ شپږویشتمه نیټه رسماً د بنګلدیش د خپواکی ورځ لمنځل کیږي. وسمهال دې ته ورته خبرې د پښتونخوا، بلوڅستان، سند د سیاسی مشرانو لخوا اوریدل کیږي،,, اي ایس اي د جناح پاکستان اشغال کړي دی، څو تیر نه د ترهګرو د تریینګ کمپونه جوړ کړي. د پښتونخوا، بلوڅستان او سند سیاسي مشران باید راپورته شي او زر تر زره د ملګروملتونو سره اړیکه ونیسي او ترینه غوښتنه وکړي، چي موږ په خپله غوښه د پاکستان تجربه یا وېشل غواړو. څو پرته له وینو تویولو پر ترهګری بریالي شو. لکه څنګه پر ۱۹۷۰ کال کې داسي وشول. کله چي سیاسي تاوترخوالي زور واخیست او ستیږ د پاکستان پوځ او بنګالي پاڅونوالو د اغ و ډب لپاره چمتو شو. په پایله کې په زرګونه مسلمان بنګلیان ووژل شول .

د کتاب لیکوال سید جمال الدین لیکي، ترڅو واشنګټن په دې باور وي، پاکستان به امریکا ته د نړیوالي ترهګري ضد جګړه کې ګټور پریوځي، دا به ناشوني وي، چي واشنګټن دې فشار ورنو ته سره ټيټ کړي، څو پاکستان یو ترهګر دولت په نامه ونوموي. د ترهګرۍ په وړاندې جګړه کې د امریکا متحده ایالاتو د ډیرو سوله خوښوونکو ملتونو په وړاندې یو ډیر مبهم او ګونګ دریځ غوره کړي دی. همدارنګه کله چي د تروریزم په برخه کې د پاکستان رول باندې د یو مخکښ دولت په ټوګه خبرې کیږي.

د امریکا متحده ایالاتو منډې را منډې د هند او پاکستان ترمنځ د انفرادي اړیکو ساتلو او د خورا حساس نازک تعادل ساتلو او ښه کولو په برخه کې یو روښانه کسر یا درز لیدل کیږي. کله چي هند د ترهګرۍ له امله شکایتونه کوي، کومه ترهګري چي د پولي له هغې غاړې ورته را روانه ده. ولې د امریکا متحده ایالات په ښکاره توګه اعتراف نه کوي او د پاکستان سره د یو ,, ترهګر دولت ,, په څیر چلند نه کوي ؟

د یوولسم د سپتمبر د پیښي راهیسي د امریکا متحده ایالاتو بهرنی سیاست د سویلي اسیا اړوند په دریو اړخونو باندې ولاړ دی. د امریکا متحده ایالات په ځای د دې چي پاکستان د نړیوالي ترهګرۍ مرکز په توګه و پیژني .امریکایان تر اوسه له دې ویریږي او سم نه پوهیږي، چي د پاکستاني جنرالانو سره څنګه چلند وکړي، کله چي دوی پاکستان د نړیوالي ترهګر ی مرکز په نامه وپیژني. امریکایان نشي کولای په خپله سیاسي ستراتیجي کې د ایران سربیره پاکستان هم ورشامل کړي. په ریښتینه مانا پاکستان د پسه په پوستین کې یو لیوه دی .

National Commission on Terrorist Attacks Upon the Unitad States (9/11 .
Commission ) د دامریکي ملي کمیسیون داسي شواهد او ثبوتونه وموندلي، چي اسلام اباد د طالبانو سره د یوولسم دسپتمبر ترهګریزو بریدنو څخه مخکي ګډه همکاري درلودله.

پاکستان دا ادعا هم لري، چي دوی د ترهګرۍ په وړاندې جګړه کې تر یوه بریده پریکنده ګامونه اخیستلي دي او ډیر د القاعدې جګپوري غړي نیولي دي .د یوولسم سپتمبر کمیسیون ریوټ دا هم لیکي : طالبانو د دې توان هم لرلو، د نړیوالو فشارونو او د ملګرو ملتونو د بندیزونو سره سره بن لادن ته د تېښتي خوندي لاره برابري کړي. اصلاً دا کار پرته د پاکستان له همکاریو ناشوني وه. د امریکا د کانګرس د پلټنو سرویس یو بل ریوټ پر بنست، پاکستان له دې حقیقته هم ځان خلاصوي، چي طالبان او نورې وسله والي ډلي له پاکستانه پرته له ځنډه پر آزاده پوله ټګ راټګ کوي، دوی په افغانستان کې د امریکایي، ناټو او افغان ځواکونو په وړاندې جنګیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

د افغانستان په اړه د امریکي Post War Governance, Security and U.S. Policy لیکي، امریکایي او افغان چارواکي په پرلپسي توګه پاکستان تورنوي، چې طالبانو ته اسانتیاوې برابروي، دوی د پاکستان په ښارونو کي په آزاده توګه غونډې ترسره کوي او خپلې دلې سمبالوي.
یو لویدیځوال ډیپلومات چې نې غوښتل نوم یې واخیستل شي، نیویارک ټایمز ته په ښکاره توګه داسي توضیحات ورکړي .کله چې سرې د طالبانو په اړه خبرې کوي، له دې سره سرې ته د طالبانو په اړه دا ډیره اسانیږي، په پاکستان کي د طالبانواوسیدول. هلته ځانونه سمبالول او تمویلول، او له دوی سره هر اړخیزه مرستي او ملاتړ کیدل .له دې څخه یوه نورماله خبره جوړه شوې ده.
لیکوال سید جمال الدین په خپل کتاب کي لیکي، دی مجبور شو، هغه پاکستان چې د اي ایس اي استخباراتي شبکي او پوځ له لوري حمایه او اداره کیږي، ووځي، څو د دې شبکي د ځینتو ډیرو ناارامه کونکو فشارونو له امله لاړ شي. هغه وایي، د پاکستان استخباراتي شبکه په کرده نرۍ کي په ترهګریزو فعالیتونو کي ښکله ده.
لیکوال لیکي، زه ځکه مجبور شوم له پاکستانه لاړ شم، ما ځینتو ډیر مالوماتو ته لاسرسي ومیندلو او د ترل شویو دروازو تر شا په پټو پټو رازونو او حقیقتونو باندې وپوهیدم. کوم چې د مذهب په نامه د پټو رازونه او حقیقتونو واګي د اي ایس اي استخباراتي شبکي او د دوی تبلیغاتي جماعت په لاس کي وه. دوی خپل پټ رازونه او موخي د قرانکریم آیاتو په آزاد تفسیر کي نغښتي دي او د عیسویانو، یهودانو، هندیانو او نورو غیر مسلمانو ټولنو په وړاندې نفرتونه خپروي.
لیکوال لیکي: ما هیڅکله له دې حقیقت ویلو څخه لاس نه دی اخیستلي او هیڅ وخت به ترینه په شا هم نشم، د پاکستان په اړه به ټول حقیقتونه بیانوم او تشریح کوم او د پاکستان ,, ترهګر دولت ,, څېره او رښتني انځور به نړیوالو ته وړاندې کوم.
لیکوال لیکي: له نړیوالو څخه زما خواست او غوښتنه دا ده، پاکستان ووپشئ ، څو تروریزم له منځ یوړل شئ .
. [www.voiceoftebelievers.com](http://www.voiceoftebelievers.com) [www.Petitiononline.com.](http://www.Petitiononline.com.)
لیکوا ل لیکي: لیکني مي لومړی په دې پاس پته کي خپري شوې او ورسته د ګن شمیر ویبپانو له لوري خپري شوې پر ۲۰۰۱ کال کي د سید جمال الدین دغه درخواست ( Petition) د ګن شمېر اخبارونو له لوري هم خپرو شو.
سید لیکي، زما دغه مبارزه به تر هغه روانه وي او په دې لاره کي تر هغه ولاړ یم او سرښندنه کوم، تر څو پاکستان په دې نړۍ کي شتون ولري، زه به ترهغه په دې لاره کي ودریږم، څو نړیواله ټولني ته دا ثابته کړم، چې پاکستان له تشدده او ترهګرۍ ډک یو هیواد دی. پاکستان یو لعنتي هیواد دی، پاکستان یو ډیر بد او شریر هیواد دی. پاکستان نه یو اسلامي دولت دی او نه یو نړیوال دولت دی. پاکستان د ترهګرو لپاره د کالیو بدلو خونه یا د پانسمان خونه ده.
لیکوال لیکي: د دې سربیره زما په اند د ترهګرۍ ضد جګړه په خپل تعریف کي باید د پاکستان د اي ایس اي په وړاندې هم تر سره شي. ځکه دوی دلته طالبان رامنځ ته کړل، دغو دواړو خطرناکو ډلو د جهاد په نامه ترهګرۍ ته په ټوله نړۍ کي ځانګړي پریکندیزه ځواک وروبښه. دوی ډیر ښه سمبال شوي، دوی اوږد مهاله پلانونه د عیسویانو، یهودو او هندیانو لپاره جوړ کړي دي. دوی چې هر چیرې ژوند کوي باید لمنځه یولاړل شي.
لیکوا ل په خپل کتاب کي لیکي، دا کتاب باید د ترهګرۍ په اړه د نړیوالو پام ځانته راوګرځوي، تر څو پاکستان په نړۍ کي د شتون اجازه ولري، نړي مجبوره ده، چې له دې ناوړو پیښو او اغیزو سره ژوند وکړي.
پاکستان هغسي نه دی،چې ځنګه دی ځان خلکو ته ښيي. پاکستان په قانوني توګه نوره هیڅ واک او اختیار نلري، څو د ملګرو ملتونو یو قانوني غړی هیواد واوسي. پاکستان بل چاته اجازه نه ورکوي، چې د یو بل مذهب سره په سوله کي سولیزه ژوند وکړي کله چې زه پاکستان وایم، زما مطلب د پاکستان بي موراله بد اخلاقه پوځ او د هغي ګوداګۍ لاسپوځۍ ځارګره اداره اي ایس اي ده او د دوی له تبلیغانو څخه مي مطلب دی.
له هغي پاکستانه مي مطلب نه دی، چې په کي سوله خوښوونکي ولسونه لکه پښتانه، سندیان، بلوڅان، کشمیریان او بي ګناه پنجابیانو اوسیږي. او له هغو مظلومو خلکو څخه مي هم مطلب نه دی، چې دوی د وژنکي پوځ او پوځیانو له خوا وهل شوي، ټکول شوي دي او د ټولني ځندو ته ټیلوهل شوي دي. پاکستان باید له همدې امله زر تر زره تجزیه او وویشل شي !
یو بل دلیل چې پاکستان باید وویشل شي هغه دا دی، د پاکستان په ورو ښارونو یا ځلعو کي د پرلپسي ډیریدونکي ناامني دي. په دې سیمو کي په پوره اندازه دا ډول توکي شتون لري، چې د پاکستان په صوبو کي یوه ولسي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

ټولپوښتنه تر سره شي، څو دا روښانه شي، آیا د دغو صوبو خلک په ریښتني توګه د دې اوسني پاکستان تر چتر لاندې ژوند کول غواړي او که نه ؟
. Encyclopedia Brittanica
یوه اصطلاح تعریف کړي په نامه د ولسي ټول پوښتنه یا( Pledisyit) دا اصطلاح په دې مانا کارول کیږي، څو ولسي خلک یا د یوه هیواد ټول وګړې یا د یوې سیمې خلک د یوې ځانګړې موضوع یا حقایقو په اړه وپوښتل شي او خلک د رائیو ورکولو له لارې پریکړه کوي. رایه ورکونکې مجبور دي، یو وړاندیز ومني او یا یې رد کړي. نه دا چې د دوو موادو ترمنځ یا د یو بدیلي الترنتیف ترمنځ ټاکنه وکړي. د دې ولسي ټولپوښتنې له لارې دا شونې کیږي، څو د عامو خلکو څخه رایه واخیستل شي، پرته له دې چې کوم اپوزیسیوني ګوند په کې برخه اخیستلې وي. توټالیټر یا ډیکتاتوري ریژیمونه له دې لارې خپل واک ته مشروعیت ورکوي او خپل واک ټینګوي. که سړی له دې تعریف او اصطلاح څخه کار واخلي، بیانو پاکستانی ولس د یوې ملي ټولپوښتنې مستحق ګرځې.
د کتاب څخه داسي اخیستنه کیږي، چې په پاکستان باید یوه غیر ګوندې ټولپوښتنه تر سره شي. په دې ټولپوښتنه کې باید څلور واړه صوبې، پنجاب، پښتونخوا، سند، بلوچیستان او د کراچي دیارلس میلیونه اردو ژبې وګړې او همدارنګه په نورو نړدې شاوخوا وړو ښارونو کې اوردو ژبې ډیره کې باید یوه پریکړه وکړي. آیا دوی یو متحد پاکستان غواړي، که وېشلي پاکستان غواړي.
لیکوال لیکي، زه د دې ګرانټي کوم، چې پښتونخوا، سند او بلوچیستان به د یو متحد پاکستان په ضد به پریکړه وکړي. دوی به خپل برخلیک په نوي هویت پښتونستان، سندي، بلوچیستان او جناحپور خپلواکو دولتونو کې وټاکې. داسي یوه ټولپوښتنه دې باید زر تر زره د ملګرو ملتونو د امنیت شورا تر نظارت لاتدې تر سره شي.
زما اپیل یا غوښتنه د ټولي نړی څخه د دې کتاب په مرسته دا ده، په پاکستان کې باید د ملګرو ملتونو تر نظارت لاندې یوه داسي ولسي ټولپوښتنه تر سره شي. څو عدالت پلې شي. دا ټولپوښتنه باید د یو ستر جمیل صبر ورسته د ازموېښتي ټسټ په توګه تر سره شي، آیا پاکستان د هیواد په ټوګه وجود یا شتون ولري که نه؟
پاکستان اصلاً په سیاسي توګه هیڅ مانا نلري. پاکستان پرته له یوه پنجابي پوځي ډیکتاتورۍ او د دوی استخباراتي شبکې اې ایس اې څخه پرته بل شي نه دی. دا پنجابي واکدارن نړیوالي ټولنې ته له حده زیات نور د زغملو وړ نه دي. اوس د دې وخت رارسیدلي دی، څو ملګري ملتونه نور دغه بده ښکارنده یا پمنه ناروغي وپېژني، کومه شي چې پاکستان په دې اوسنی فورم کې له ځانه ښیي. د وسمهال ګواښونو ته په کتو سره د پاکستان تجزیه یا وېش هیڅکله هم دومره اړینه نه وه، لکه نن چې نړۍ د پاکستان له خاوري ګواښل کیږي.
لیکوال سید جمال الدین په ټینګار سره وایي او زیاتوي،زه هیله کوم د دې کتاب لوستونکي باید د ,, اړتیاوو بنسټیزو کانسپټ په اصلولو ځانونه وپوهوي، هغه دا موضوع په دې کتاب کې په جلا څپرکی کې لیکلي ده. لیکوال د اړتیاوو موضوع په لنډه توګه په دې ډول لیکې. پاکستان باید په پینځو برخو ووېشل شي، څو په سویلي اسیا کې د سیاسي ځواکونو یو طبیعی توازن رامنځته شي او له دې سره به په نړۍ کې سیاسي سوله بیز چاپیریال رامنځ ته شي.
نړیوالو ته به بوش او بلیر د پاکستان له وېشلو سره یوه بهترینه ډالۍ وړاندې کړي، پرته له دې چې دوی له خپل دوتره یا دفتره ووځې او د پاکستان تجزیه او وېش به د موجوده حقیقي ترهګریزو نړیوالې شبکو له منځه وړلو سره مترادفه یا هممانیزه وي. هیله کیږي، پاکستان وویشئ، څو په ټوله نړي کې ترهګرې له منځه لاړه شي.

پای

---

- دغه کتاب ۲۵۰ پاڼې لري، په ۲۰۱۳ کال د فبروري په اوویشتمه نیټه د المان د اوتورهاوس خپرندویه ټولنې لخوا چاپ شوي دی [i]
- **Gebundene Ausgabe:** 250 Seiten
- **Verlag:** Authorhouse (27. Februar 2013)
- **Sprache:** Deutsch
- **ISBN-10:** 148178353X
- **ISBN-13: 978-1481783538**
- Divide Pakistan: To Eliminate Terrorism


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ